◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دولت: بیا هم وایم، چې (که دی جاسوس نه و) نو ده هلته څه کول؟ عجیبه ده، په دې اړه هېڅ توضیحات نشته. کرن تاپر همدا پوښتنه پر ټلویزیون را څخه وکړه او ما هم په ډانګ پېیلې رد کړه، ومې ویل چې که د بهرنیو چارو وزارت وایي، چې برمته شوی دی، نو موږ باید دا معلومه کړو، چې چېرته برمته شوی دی.

په سبا یې کرن په ټلویزیون زما خبره ببرته ومنله.ټلیفون یې راته وکړ او ویې ویل چې ملګری دې د قناري غوندې سندرې وایي. زه هېښ شوم چې که دا استخباراتي عملیات وي، دا نو څنګه عملیات دي، چې هېچا ته یې هم ګټه نه رسېږي.

سېنها: که د همدې پېښې په وخت کې ته رئیس وای، آیا څوک به دې له دندې شړلي وای؟

دولت: زه دا نه وایم. زه نه وایم چې ما به تر نورو دا کار سم کړی وای، خو که په رښتیا هم سړی جاسوس و، د استخباراتي عملیاتو په توګه دا ډېر خراب کار دی.

سېنها: دی د ممبیي و او د ممبیي په پولیسو کې یې دوه خپلوان هم وو.

دولت: هو رښتیا ده. ده یو کاروبار هم درلود.

سېنها: یو چا راته وویل چې یوه بېړۍ یې هم لرله او د سمندر له لارې به یې د مخدره توکو کاروبار کاوه.

دولت: ما بیا دا نه دي اورېدلي، خو دومره مې اورېدلي، چې کاروبار یې کاوه.

زه وایم چې همدا کیسه باید پټه پاتې شوې وای. په حقیقت کې له همدې کیسې ښه ګټه اخیستل کېدای شوای. څه چې مو د دواړو هېوادنو د ملي امنیت د سلاکارانو له ټلیفوني خبرو واورېدل، دا وو چې جنرال جنجوعه اجیت دوال ته وویل، چې «ستاسو جاسوس مو نیولی دی، خو تشویش مه کوه. پام به پرې وشي.» تاسو په مناسب وخت کې راته وویل چې څه به ورسره وکړئ؟

اوس اساسي پوښتنې ته راځو، چې آیا هندي او پاکستاني استخبارات همکاري کولی شي؟ که یې نشي کولی، ولې یې نشي کولی؟

سېنها: ښه نو د یادېو قضیه ټوله د حالاتو په خرابولو او کرغېړنولو راڅرخي؟

دولت: د ملي امنیت پر سلاکارانو پړه نشي وراچولی، د دوی تر خبرېدو وړاندې قضیه ټلویزیونونو ته رسېدلې وه او ټول خلک پرې خبر وو.

سېنها: ښه نو ویل کېږي، چې ISI او RAW په خرابکارۍ کې لومړی نمبر دي.

دولت: ISI ډېره ښه ده، دا خبره یې پر ټلویزیون مخامخ وکړه! لکه موږ چې د کارګېل جګړې په جریان کې د جنرال مشرف او جنرال عزیز د ببلوالي په اړه ټول خلک خبر کړل.

دا لوبه له سیاست سره بدله ده او باید لرې ځینې وساتل شي، چې لا اغېزناکه شي.

سېنها: غالمغال له پیلېدو وروسته ببرته ارام شو.

دورانی: که هېڅ نه کېږي، زه خوشاله یم، داسې شر و شور کوم ځای نه نیسي. یوه بله لاره هم وه. موږ باید دا مسئله له کمزوري ایراني ولسمشر سره په مېلمستیا کې نه وای مطرح کړې. شرم یې لا دا چې دا کار د پوځ رئیس وکړ.

سېنها: موږ باید د بلوچستان په اړه هم وغږېږو، جنرال صېب؟

دورانی: له لومړیو لا پاکستان بلوچستان سم نه اداره کاوه. هېڅوک نه پوهېدل چې دا کار خپله د پاکستان بنسټ اېښودونکي ته هم پېچلی و کنه. جناح په ډېرو موضوعاتو نه پوهېده، خو ده وویل چې بلوچستان ناڅاپي د ده ایالت شو. بلوچستان له نورو ایالتونو سره توپیر لري، په ډېرو برخو وېشل شوی دی، ځای ځای نفوس لري. پښتانه او بلوڅ جلا جلا ځایونه لري. بلوڅ په ټبرونو وېشل شوي دي، چې براهوي ټبر یې د سر میر دی. بلوچستان د طبیعي زېرمو لویې ذخیرې لري. تمه لرم چې ټول به یې موږ نه وي مصرف کړې، ځکه چې موږ په خرابکارۍ کې پوره مهارت لرو. زه دعا کوم چې خلک سمه ګټه ترې واخلي او د سوند ګازو په څېر یې ونه سوځوي، یا کومه سیاسي وسله ترې جوړه نه کړي. افغانان او بلوڅ ښایي زړه ورته ښه کړي. په ستراتېژیکه توګه دا ډېر مهم ځای دی. د فارس خلیج یا د هند سمندر کې، چې د فارس خلیج او عرب بحیره دواړه په کې راځي، د ټولو ګټې خوندي دي، د همدې ځای په طبیعي ګازو او کورېدور کې ټول ګټې لري. دا د حیرانتیا وړ نه ده، چې په څو میلیونه بلوڅو کې یو څو زره بلوڅ نارامه وو. د وسلو اخیستو او مقاومت کولو لپاره یې یوازې بهرنۍ لمسونې ته اړتیا درلوده. خو که بهرنۍ لمسونې هم نه وای بیا به هم ځینو دا کار کړی وای.

د دوی تاوان دا دی چې شمېر یې کم دی او د خلکو له خوا یې ملاتړ نه کېږي ـ د همدې ځای خلک بېوزله دي ـ په نتیجه کې د وخت په اوږدو کې دوی سرکوب شوي دي. همدا یې پنځم ځل راپورته کېدل دي.

**دوام لري...**

# جوزف پولیتزر

شفیق امیرزی

جوزف پولیتزر امریکایي لیکوال او خبریال دی. هغه ځکه په نړۍ کې مشهور دی چې د پولیتیزر په نامه یې د یوې مشهورې نړیوالې او معتبرې جایزې بنسټ اېښی دی. دا جایزه تر ډېره د ادبیاتو، هنر، خبریالۍ او نورو بشري علومو په برخه کې ورکول کېږي. جوزف پولیتزر د خپل وخت مشهور، شتمن او د ښه مدیریت نمونه خبریال و. هغه د خپل ژوند پر مهال څو ورځپاڼې واخیستې، د امتیاز خاوند یې و، شتمن شو او له خپلې شتمنۍ یې د ژورنالېزم او خبریالۍ د ودې او پرمختګ په برخه کې ګټه پورته کړه.

جوزف پولیتزر د ۱۸۴۷ز کال د اپرېل په لسمه دې نړۍ ته راغلی دی. پلار یې د هنګري او مور یې هم یهودي مذهبه المانۍ وه. دی د هنګري په مکو ښار کې زېږېدلی، خو بیا امریکا ته تللی دی او ټول فعالیتونه یې په امریکا کې مخ ته وړي دي. اوولس کلن و چې غوښتل یې له امریکایي پوځ سره یو ځای شي. ده دې څه مودې لپاره د امریکا په ځینو ښارونو کې له پوځ سره د یو ځای کېدو لپاره هڅه وکړه. پلار یې شتمن کس و، تر یوه وخته یې د ده ملاتړ کاوه، خو په نظامي مرکزونو کې تر څو میاشتو سرګردانۍ وروسته دی بریالی نه شو، چې پوځ ته لاره پیدا کړي. ده غوښتل د امریکا د کورنیو جګړو پر مهال مهم پوځي وي، خو د سترګو کمزوري او د ده د بدن کمزوري د دې کار خنډ شوه.

د ځوانۍ کلونه یې سخت وو، ویل کېږي کله چې په پوځ کې ونه منل شو او ببرته کور راګرځېدو، نو د ځینو کارونو فکر ورسره پیدا شو. ده غوښتل ازاد کارو بار ولري، په څو ښارونو وګرځېد، خو ناکام شو، ببرته را وګرځېد او شته پیسې یې هم خلاصې کړې. ویل کېږي چې خپل کور ته د راګرځېدو پر وخت دومره پیسې نه وې ورسره چې د اورګاډي کرایه پرې کړي، نو اړ شو چې خپل د غاړې دسمال وپلوري او ځان ورسوي. بیا په یوه هوټل کې د خدمې په توګه کار پیلوي او غواړي ګزاره وکړي. همدلته له ځینو کسانو سره پېژني، له لیکوالانو سره مخامخ کېږي او ځینې خبریالان دلته ویني.

ده څو کاله مطالعه وکړه، انګلیسي یې زده کړه او د بېکارۍ پر وخت به یې حقوق او نور سیاسي نظریات لوستل. له څو کاله بېکارۍ او پرله پسې هڅو وروسته بریالی کېږي چې په ۱۸۶۹ز کال کې په ویسټ ولېش ورځپاڼه کې کار پیل کړي. کار یې دومره لوی او مهم نه و، خو هر لوی ګام له وړو حرکتونو پیلېږي. ده هڅه کوله اړیکې یې پراخې شي، له امریکایي او نورو چارواکو سره یې اړیکې ښې کړې. په ورځپاڼه کې یې د خپل لیاقت له مخې ځان ته ځانګړی ځای پیدا کړ او لیکل به یې کول. ده ته د رېل پټلیو د نوو جوړېدونکو برخو په اړه د راپور چمتو کولو دنده سپارل شوې وه، په دې یې هم پوره کار کاوه او هڅه یې کوله پر وخت او دقیق معلومات وړاندې کړي. همدې مسئلې د ځینو سیاسیونو پام هم ور اړولی و. ځینو ده ته اجازه ورکړې وه چې له کتابتونونو او موادو یې استفاده وکړي او خپل فعالیتونه مخ ته یوسي. دی له همدې ځایه له جمهوري غوښتونکي ګوند سره یو ځای کېږي.

په دې وخت کې ده ډېر تمایل د جمهوري غوښتونکي ګوند افکارو ته درلود او په دې ګوند کې یې ځان ته د ځای پیدا کولو هڅه کوله. د دې ګوند نوماند هوراس ګریلي و، په ټاکنو کې ودرېد، دوی یې ملاتړ وکړ، خو ماتې یې وخوړه او له دې سره جوخت جمهوري غوښتونکی ګوند هم مات شو. په ۱۸۶۹ز کال کې ګوند منحل شو او پولیتزر له ډیموکراتانو سره یو ځای شو.

ده د سیاسي فعالیتونو تر څنګ د خبریالۍ په برخه کې خپل فعالیت ته ادامه ورکوله. دی وایي، له دې مسلک سره یې مینه وه او هڅه یې کوله اصلي ژورنالېزم او خبریالي خپل ځای پیدا کړي. ده په دې موده کې لږ او ډېرې پیسې هم پیدا کړې وې او په ۱۸۷۲ز کال کې یې په پست ورځپاڼه کې په ۳۰۰۰ امریکایي ډالر یوه ونډه واخیسته. یو کال وروسته یې خپله ونډه په ښه ګټه وپلورله. په ۱۸۷۹ز کال کې یې په یوه وخت کې دوې ورځپاڼې سنت لوئیس دیسپیچ او سنت لوئیس پست وپېرلې. دا دواړه یې سره یو ځای کړې او یوه واحده ورځپاڼه یې چاپ کړه. دا ورځپاڼه د دې سبب شوه چې خپل افکار په ښه توګه نورو ته ورسوي. پیاوړی مدیریت وکړي او ځان ته د هغه وخت په حاکم سیاسي چاپېریال کې د ډاډ وړ ځای پیدا کړي.

پولیتزر په همدې توګه ورځ تر بلې د ژورنالېزم او ورځپاڼو په کاروبار کې شتمن کېدو. پیسې یې پیدا کولې او خپل کار ته یې پراختیا ورکوله. په ۱۸۸۲ز کال کې شتمن شوی و او یوه لویه ورځپاڼه یې په لوړه بیه واخیسته. ده د نیویارک ورلډ ورځپاڼه په هغه وخت کې په ۳۴٦زره امریکایي ډالره وپېرله. دا پیسې په هغه وخت کې ډېر شی وې. د پولیتزر تر پېرلو مخکې ورځپاڼې هر کال نږدې څلوېښت زره ډالر زیان کاوه، خو نوموړي دا هر څه بدل کړل.

دی ډېر ماهر کس و. کتل یې چې لوستونکي څه غواړي او کوم فرصتونه شته چې باید ګټه ترې واخلي. خلاوې به یې پیدا کولې، له منځه یې وړلې، د خلکو د خوښې وړ داستانونه یې ورځپاڼو ته راوستل، سیاسي فعالیتونه یې په پوره ځیرکۍ مخ ته وړل. ډېر افشاکوونکی کار یې کاوه، له ډېرو مسایلو یې پرده پورته کوله، تحقیقي ژورنالېزم یې کاراوه او خلکو ته یې نوي موضوعات وړاندې کول. ده له ځان سره په ورځپاڼه کې تکړه خبریالان ګومارل، په ګډه یې کار کاوه او د ټولو چارو مستقیم مدیریت یې په لاس کې و. د نیویارک ورلډ له پېرلو وروسته یې په ۱۸۸۷ز کال کې مشهور او تکړه خبریال او محقق نیلي بیلي له ځان سره وګوماره. نوموړې هغه مهال وتلې او مشهور خبریال و. په دې سره یې کار او فعالیتونه اوج ته ورسېدل. دوی یوازې پر همدې کار تمرکز ونه کړ، هڅه یې وکړه چې د بېلو قشرونو لوستونکو لپاره نوي مطالب ولري. د هرې طبقې او هرې ډلې لوستونکي ورسره وي، له همدې امله یې په ۱۸۹۵ز کال کې لومړنۍ امریکایي کمېډي ورځپاڼه هم چاپ کړه. دا ورځپاڼه ډېرو خلکو ته د پام وړ وه، په ډېر کم وخت کې یې د چاپ شمېر له پنځلسو زرو شپږ سوه زرو ګڼو ته ورسېد. دا هغه څه وو چې د پولتیزر په مدیریت کې رامنځ ته کېدل. ده غوښتل چارې یې پراخې شي، فعالیتونه یې اغېزناک شي او له دې لارې نه یوازې دا چې پیسې وګټي؛ بلکې د حقیقي ژورنالېزم د پراختیا لپاره ګامونه اوچت کړي.

د پولیتزر بریاوې د دې سبب شوې چې ځینو ته خطر پېښ شي او ځینې بیا رخه ورسره وکړي. د هغه پرله پسې بریاوو د ده مخالفین ډېر کړل. دوی هڅه کوله چې په ټولنه کې د پولتیزر موقف او ځای ځایګي ته زیان ورسوي. په دې وخت کې دی له ورځپاڼې لرې و، ناروغ و، خو سره له دې یې هم ورځپاڼه مدیریت کوله او له لرې یې ټولې چارې تنظیمولې. په ۱۸۹۵ز کال کې ویلیام راندولف هرست د نیویارک ژورنال ورځپاڼې امتیاز د پولتیزر له ورور واخیست. دوی د امریکا او اسپانیا د جګړې خبري پوښښ ته مخه کړه او په دې برخه کې یې رقابت پیل کړ. د پولتیزر او راندولف د ورځپاڼو تر منځ د ژېړ ژورنالېزم رقابت روان و. دغه جګړه اوږده شوه او په دې منځ کې د دې دواړو ورځپاڼو رقابت هم شدید روان و. جګړه په ۱۸۹۸ز کال کې په هاوانا خلیج کې د یوې امریکایي بېړۍ تر چاودلو او له منځه تللو وروسته پیل شوې وه.

راندولف هڅه کوله چې په دې مسئله کې اسپانیا پړه وبولي او په همدې لړ کې و، چې د وخت ولسمشر د اسپانیا پر ضد د جګړې امر وکړ، خو پولیتزر خپلې ورځپاڼې او خبریالانو ته د حقیقت د موندلو امر کړی و. ده هڅه کوله جګړه ختمه شي او دا حقیقت روښانه شي چې بېړۍ پخپله چاودلې ده او که نه د اسپانیې لاس په دې پېښه کې شته دی. د دوی پلټنو ښوده چې بېړۍ د خپل ماشین د خرابوالي له امله له منځه تللې ده او چاودنه پکې رامنځ ته شوې.

همدې د نظر اختلاف د دوو ورځپاڼو تر منځ سخت جنګ پیل کړ. پر یو بل به یې تورونه لګول او د یو بل پر ضد یې لیکنې کولې. په پایک کې په ۱۹۰۹ز کال کې تیودور روزولت او جي پي مورګان د سپکاوي او توهین په تور د پولیتزر پر ضد شکایت وکړ. محکمې هم تر اوږدو بحثونو او ناندریو وروسته د پولیتزر ورځپاڼه په څلوېښت میلیونه ډالر جریمه محکومه کړه. خو ورځپاڼې او پولیتزر له خپلو هڅو لاس وا نه اخیست او لا هم د حقیقت په لټه کې وو، تر دې چې په ۱۹۱۱ز کال کې د دوی هڅو او فعالیتونو نتیجه لرله. د څېړنو او تحقیق کمېسیون وویل چې د بېړۍ په پېښه کې دوی په حقه دي او د سپکاوي مسئله هم قصدي نه وه، نو ځکه یې له جرمې برائت ورکړ او دغه تور بېرته واخیستل شو.

پولیتزر په خپل نامه د یوې جایزې بنسټ کېښود. دا په امریکا کې تر ټولو معتبره هنري جایزه ګڼل کېږي. د دې جایزې لپاره کتابونه، ژورنالیستیک اثار او نور هنري اثار په پوره دقت انتخابېږي او په هر اړخیزه توګه ارزول کېږي.

جوزف پولتیزر مشهور امریکایي خبریال په خپله خوښه کلمبیا پوهنتون ته ورغی او هلته یې د ژورنالېزم د مسلکي زده کړې ښانګه پخپل شخصي لګښت جوړه کړه. جایزه په لومړي سر کې ۲۵۰ زره ډالره وه، د بورسونو ورکړه یې هم یوه برخه وه. تر مرګ وروسته یې د لومړي ځل لپاره پولیتزر جایزه په ۱۹۱۷ز کال کې وړ کسانو ته ورکړل شوه. اوس هر کال د اپرېل په میاشت کې دغه جایزه ورکول کېږي او د یوه کال په اوږدو کې ځانګړي شوي اثار په سمه توګه ارزول کېږي.

پولیتزر په ۱۹۱۱ز کال کې د جنوبي کارولینا په چارلستون بندر کې ومړ او په نیویارک کې خاورو ته سپارل شوی. یوه خبره د یادولو ده چې د کولمبیا پوهنتون د ده په ژوند د ژورنالېزم ښانګه جوړه نه کړه، موافقه یې ورسره ونه کړه، خو تر مرګ یو کال وروسته یې د ده له وصیت سره سم دغه ښانګه جوړه کړه. دا اوس د نړۍ په کچه د ژورنالېزم تر ټولو باوري او معتبره ښانګه ګڼل کېږي چې هر کال د نړۍ تکړه او نوموتي خبریالان ترې فارغېږي.

ده په خپل وصیت کې لیکلي وو چې له خبریالۍ سره بې شانه مینه لري. له همدې امله باید د ده په نامه هر کال څلورو خبریالانو، څلورو د ادبیاتو لیکوالانو، یوه جایزه د ښوونې او روزنې برخې او څلور جایزې د بورسیو په توګه ورکړل شي. اوس دا جایزې ډېرې شوې دي او ډېرو کسانو ته ورکول کېږي. له افغانستان هم د پولیتزر جایزه یوه افغان عکاس مسعود حسیني اخیستې. مسعود حسیني په دې توګه یوازینی افغان دی چې دغه جایزه یې اخیستې ده. هغه د ۱۳۹۰لمریز کال په عاشورا کې تر یوې چاودنې وروسته د قربانیانو انځورونه اخیستي وو چې په نړیواله کچه مشهور شول او ده ته یې د زړور خبریال لقب هم ورکړ.



# همیانی

## ۸ هغه ناوړه عادتونه چې خلاقیت له منځه وړي

ژباړه: حامد احمدزی

که له ځان سره دا فکر کوی چې زیاتره خلک له نوښتونو سره دې دنیا ته راغلي او تاسو ترې بې برخې یاستی، تېروتنه کوی؛ ځینې خلک نوښتګر دي، ځکه یې نوښت کړی. کارپوهان په دې باور دي چې نوښت یو مهارت دی چې زده کولی یې شی، نو د نورو مهارتونو په څېر، تاسو باید له عمل او هڅې سره نوښتګر و اوسئ. نوښت یوازې په دې نشي کېدای چې موږ دې هره ورځ له ځان سره همدا کلمه زمزمه کړو، که غواړو نوښت وکړو، هره ورځ باید هڅه وکړو او خپل فکر د نویو کارونو په لور برابر کړو، خو په دې باید پوه شئ، چې د نوښت په مخ کې لوی خنډونه هغه ناوړه عادتونه دي چې موږ په خپل ذهن کې ځای ورکړی، په دې لیکنه کې ۸ هغه ناوړه عادتونه در پېژنو چې خلاقیت له منځه وړي، که تاسو هم دغه عادتونه لری، ښه ده چې نور یې هېر کړئ.



**۱- د نورو په اړه قضاوت کول**

د نوښت لپاره باید نوي نظرونه او مفکورې ولرو، څو نوې اختراع وکړو. که چېرې په خپلو نوښتونو ژر قضاوت وکړی، دا د دې لامل کیږي چې پر خپلو کارونو شکمن و اوسی او د نوښت کمه نتیجه ووینی. د بیا کتنې پروسه په جلا توګه تر سره کړئ، لومړی دې ته اجازه ورکړئ، چې خام نظرونه مو وړاندې کړی او وروسته کولی شی چې غوره نظرونه او نوښتونه مو رامخ ته کړئ.

**۲- جرئت نه کول**

که تاسو له خطرونو څخه وېره لری، نو دا به بې له شکه ستاسو لپاره له اوسنۍ لارې انحراف کولو کې ستونزمن وي. که غواړی چې نوښتګر و اوسی، باید زړور و اوسئ او هغه واړه کارونه چې مخکې مو خنډ ګرځي، له مخې لرې او بابېځه وګڼئ. شته فرصتونه چې په مخکې یې لری، و ازمویئ. ډار د نوښت په مخ کې تر ټولو لوی خنډ دی.

**۳- له ماتې وېره**

له ماتې وېره موږ نه پرېږدي چې نوښت وکړو. که زموږ هدف د ناکامۍ او تېروتنو مخنیوی وي، نو موږ چوپ او محافظه کاره یو. نوښت یانې د هغو فرصتونو ازمایل کوم چې موږ مخ کې لرو، نوې زړه راښکونکې مفکورې چې په خپل ذهن کې یې لرو، د ټولو هغو تېروتنو ارزښت لري کومې مو چې له دې مخکې کړې دي.

**۴- له نورو سره خپل ځان برابرول**

کله چې خپل ځان له نورو سره پرتله کوی، دا مو په ذهن کې نوښت او هغه څه چې تاسې یې د خپل ژوند د ښه کولو لپاره لری، یو مخ له منځه وړي. د خپل ځان لپاره معیار وټاکئ، خپله لاره خپله وټاکئ او له نورو سره هېڅکله ځان مه پرتله کوئ. په دې دنیا ستاسو لپاره تر ټولو ستره ډالۍ ستاسو نوښت دی.

**۵- د ډاډ نه لرلو اندېښنه**

ډېر خلک د ډاډ نه لرلو له امله اندېښنه کوي، دا خلک غواړي چې هرڅه سم او منطقي وي؛ خو د نوښت لپاره موږ باید د ډاډ منلو جرئت ولرو. که پر یوڅه پوره ډاډمن نه یاستی، ډېره اندېښنه ورته مه کوئ، نوښ یو عادت دی او غوره نوښت د ګټورو عادتونو هغه پایله ده، چې موږ ته دا توان راکوي څو له تخیل څخه ګټه پورته کړو. د دې لپاره چې یو نوښتګر شخص و اوسی، له تېروتنو مه ډارېږئ.

**٦- له نیوکو وېره**

په کار کې له نورو نظر اخیستل ښه دي، په خپلو کارونو کې د نورو سالمې نیوکې هم ومنئ، خو په دې شرط چې دغه نیوکې او نظرونه مو باید ونه ځوروي، موږ ټول د نورو نظرونو ته اړتیا لرو. د نورو خلکو نیوکې د دې لامل کیږي چې موږ پرمختګ وکړو. له نیوکو وېره؛ زموږ ماتې او ناکامي یقیني کوي.

**۷- پر ځان باور نه لرل**

پر ځان بې باوري په اوږدمهال کې زموږ پر وړتیاوو باندې منفي اغېزه کوي. د نوښت لپاره غوره لاره لومړی پر خپل ځان باور دی.

**۸- بې ځایه اندېښنې**

نوښتګر خلک پوهیږي چې په یوه ځانګړې موضوع کې ډېره بوختیا او تمرکز کول د خلاقیت اصلي ریښه ده. مهمه دا ده چې که تاسو غواړی نوښتګر و اوسی، دا مه هېروئ هرڅومره چې تاسو پر خپلو کارونو ښه تمرکز ولری، هغومره به مو ذهن روښانه او نوښت به مو کړی وي. نوښت هغه شعوري هڅه ده، چې نوې غوښتنې رامنځته کوي او په ښه ډول یې ځواب وایي. هرڅوک کولی شي چې په ژوند کې نوښتګر و اوسي، دا دې هر شخص په هڅو، کلک هوډ او پلان پورې اړه لري. که نوښت نه وای، په نړۍ کې به دومره ستر بدلونونه نه رامنځته کېدل. د نوښت کولو لپاره ټول هغه عادتونه له ځانه لرې کړئ چې د نوښت مخه مو نیسي او هغه خپل کړئ چې د بریا او نوښت سبب مو ګرځي.

---

## ګارډین: افغان جګړې د بایډن له اداري لار ورکه کړې



ګارډین ورځپاڼې د افغان جګړې په اړه په یوه راپور کې ویلي، چې د امریکا ولسمشر جو بایډن ته په افغانستان کې د امریکا تر ټولو اوږده جګړه په میراث پاتې ده.

ورځپاڼه کاږي، چې د افغانستان مسئلې د بایډن اداره حیرانه کړې ده. په یاد راپور کې راغلي، بایډن چې د دغه هېواد په اړه هره پرېکړه کوي، له خطر څخه به خالي نه وي؛ ځکه چې دوی نه پوهېږي خپل سرتېري له دغه هېواده وباسي او که د وتلو مهالوېش بدل کړي او دا هغه حساسه پرېکړه ده چې د بایډن پر اداري یې سر ګرځولی دی.

په دغه راپور کې وړاندې راغلي، چې د ټرمپ بې پروایۍ او وارخطایۍ د بایډن اداره له لوی سرخوږي سره مخ کړې ده؛ ځکه چې هغه د دې حساسې مسئلې د یو طرفه کولو لپاره ډېر په بېړه ګامونه واخیستل او دا هېڅ مناسبه نه وه.

ګارډین ورځپاڼه دا څرګندونې وروسته تر هغې کوي، چې په تېره میاشت کې د افغانستان د څېړنې یوې ډلې د امریکا کانګرېس ته وړاندیز وکړ چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو بهیر وځنډوي؛ ځکه چې طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی.

په ورته مهال لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې بیا ویلي، چې که څه هم د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له طالبانو سره شوې هوکړه کې دغې ډلې ته ډېر امتیازونه ورکړل، خو طالبانو په لوی لاس دغه هوکړه زیانمنه کړه. د ورځپاڼې په خبره، طالبانو د هوکړې پر خلاف نه یوازې اوربند ته زمینه برابره نه کړه، بلکې تاوتریخوالي ته یې زور ورکړ او د افغانستان په ټولو ولایتونو کې یې جګړې پراخې کړې. ورځپاڼه کاږي، چې طالبانو په شوې هوکړه کې ډېرې ژمنې کړې وې، خو په ډېریو هغو یې عمل نه دی کړی، نو د دغې هوکړې د زیانمنېدو مسوول هم پخپله طالبان دي؛ ځکه چې دې ډلې په ډېره بې پروایي له هوکړې سرغړونو ته دوام ورکړ. د ورځپاڼې په باور، طالبانو خپل دریځ روښانه کړی او هغه دا چې دا ډله د جګړې کمولو ته چمتووالی نه لري. د ویلو ده چې طالبانو بیا د دوحې هوکړې ته ځان ژمن بللی او ټینګار یې کړی، چې امریکا باید شوې هوکړه به بشپړه توګه عملي کړي.

---

## اتمر: ترکیه دې د افغان سولې په پروسه کې اغېزمن رول ولوبوي



د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر وایي، ترکیه په سیمې او اسلامي نړۍ کې یو مهم هېواد دی او د افغانستان د سولې پروسې لپاره د سیمه‌ییزې اجماع په پیاوړتیا کې اغېزمن رول لوبولی شي.

نوموړي تېره ورځ د کابل – انقرې ترمنځ د ډیپلوماټیکو اړیکو د سلمې کلیزې په مناسبت مراسمو کې وویل، چې د ترکیې نوښت او د افغانستان د سولې له پروسې سره یې ملاتړ ډېر د ارزښت وړ دی.

اتمر زیاته کړه چې له ترهګرۍ سره مبارزه، د افراطیت مخنیوی، اقتصادي اړیکې او د سیمې په کچه د اړیکو پیاوړتیا د افغانستان له سولې او ټیکاو سره مستقیمې اړیکې لري.

اتمر دغه راز ټینګار کړی: «په افغانستان کې سوله اوس په یو ګډ هدف بدل شوی دی... له همدې امله موږ د ترکیې له ستر ملت څخه غواړو چې دایمي سولې ته د رسېدو لپاره خپلو مخلصانه همکاریو ته دوام ورکړي، هغه سوله چې د خلکو اراده منعکسه کړي او د سیمې او نړۍ هېوادونه یې په اړه اجماع ولري».

نوموړي ویلي، د افغانستان، ترکیې او پاکستان ترمنځ د درې اړخیزو غونډو بیا پیلېدل، د افغان سولې مذاکراتو کوربه‌توب لپاره د ترکیې چمتووالی او د افغانستان د سولې په پروسه کې د همکاریو لپاره د ترکیې د دیانت بنسټ چمتووالی له کابل سره د انقرې د همکاریو مهمه برخه وبلله.

د افغان سولې په پروسه کې د همکاریو دا غوښتنه وروسته له هغې کېږي، چې افغان حکومت او طالبان له شاوخوا اوو میاشتو راهیسې په قطر کې د سولې په مذاکراتو بوخت دي چې تراوسه په کې د پام وړ پرمختګ نه دی شوی.

په ورته مهال ترکیه وایي، د افغانستان د سولې له پروسې خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي. په کابل کې د ترکیې سفیر اوغوز خان ارطغرل د افغانستان او ترکیې د ډیپلوماتیکو اړیکو د سلمې کلیزې په مناسبت په خپاره کړې مطلب کې ویلي چې تل یې په بېلو مواردو کې له افغانستان سره مرسته کړې او په بېلو برخو کې به خپلو همکاریو ته ادامه ورکوي. د نوموړي په خبره، افغانان له څلورو لسیزو راهیسې د جګړې په اور کې راګیر دي او د دې جګړو د ختمولو یوازینۍ او اغېزناکه لار بین الافغاني مذاکرات دي.

---

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٤ |
| € | ۹۳,۲ |
| Rp. | ٤۸۲ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰٦,۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د مارچ دویمه | ۶۸۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۲۰ | ۱۶ | ۱۸ | ۲۵ | ۱٤ |
| ۳ | ۳ | ٦ | ۱۰ | ۱۱ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۲ | لمر ختل ۰۶:۲۵ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۴:۰۱ | ماښام ۰۵:۴۲ | ماخوستن ۰۷:۱۳

## نړۍ



## واشنګټن: د تهران له خوا د اټومي تړون په تړاو د غیر رسمي غونډې ردېدل اندېښمنوونکي دي

۳

## نتانیاهو: په عمان خلیج کې پر اسراییلي بېړۍ برید ایران کړی دی

د اسراییل لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو ایران تورن کړی، چې تېره اونۍ یې په عمان خلیج کې د اسراییل پر یوې بار وړونکې بېړۍ برید کړی، خو تهران بیا دغه ادعا رد کړې ده.

نتانیاهو د اسراییل له دولتي راډیو، کان سره په مرکه کې چې ویلي، دا واضح ده چې دا برید د ایران کار و. نوموړي ایران د اسراییل لوی دښمن بللی چې په وینا یې، کلک هوډ لري چې مخه به یې نیسي.

د اسراییل لومړي وزیر د دې پوښتنې په ځواب چې ایا اسراییل به د دغه برید په وړاندې غبرګون ونښيي، وویل، دوی په ټوله سیمه کې د ایران پر هدفونو ګوزارونه کوي.

په ورته مهال د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب‌زاده دغه ادعا چې ګوندي هېواد یې پر بار وړونکې بېړۍ په برید کې لاس درلود، په کلکه رد کړې او ویلي یې دي چې نتانیاهو له ایران سره سودایي شوی دی. د یادونې ده چې د اسراییل دغه بېړۍ چې موټر یې لېږدول، د سعودي عربستان د دمام له بندره سېنګاپور ته په لاره وه، چې د فبرورۍ په ۲۵مه پرې یوه چاودنه وشوه.

په دغه چاودنه کې چاته زیان نه دی رسېدلی، خو اسراییلي څښتن یې ویلي چې چاودنې د بېړۍ یوه خوا د یو نیم مترو په شعاع دوه ځایه سورۍ کړې ده.

## راپورونه: په قزاقستان کې د حکومت ضد لاریونونو پرمهال لسګونه کسان نیول شوي



د راپورونو له مخې، په قزاقستان کې د حکومت ضد لاریونونو پرمهال په لسګونه معترضان نیول شوي دي. دغه لاریونونه چې د دغه هېواد په پلازمېنه او یو شمېر نورو ښارونو کې ترسره شوي، د اپوزېسیون دوو ګوندونو تنظیم کړې وې.

په دغو لاریونونو کې چې د قزاقستان په یو شمېر ښارونو او ښارګوټو کې ترسره شول، ګډونوالو یې په هېواد کې د سیاسي اصلاحاتو لپاره غږ اوچت کړی دی.

په ورته مهال د نور اوتان واکمن ګوند چې له نږدې درې لسیزو راهیسې د قزاقستان پر سیاست نفوذ لري، د حکومت مخالف ګوندونه یې ځنګ ته کړي دي. دغه ګوندونه چې په پارلمان کې هم څوکۍ نه لري، د خپلو غوښتنو لپاره له دې پرته چې د عمومي اعتراضونو له لارې یې راپورته کړي، بله لار نه‌لري.

دغه لاریونونه د پلازمېنې نورسلطان په ګډون، د دغه هېواد په ډېرو نورو لویو ښارونو کې ترسره شول. ویل کېږي چې په اورال ښار کې په لاریون کې چې چارواکو ورته اجازه ورکړې وه، په سلګونه کسانو برخه اخیستې وه. د قزاقستان په دویم ستر ښار الماتي کې هم په لسګونه کسانو په ترسره شویو لاریونونو کې ګډون کړی و چې د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، پولیسو لسګونه کسان په دغه ښار کې نیولي دي.

## تاجیکستان: ادامهٔ جنگ در افغانستان برای صلح و ثبات کشورهای منطقه نگران کننده است



سراج‌الدین مهرالدین، وزیر خارجه تاجیکستان در دیدارش با رئیس ولسی جرگه نماینده‌گان افغانستان، ادامهٔ جنگ را در کشور برای صلح و ثبات کشورهای منطقه، نگران کننده می‌داند.

او در دیدار با هیئت ولسی جرگه افغانستان در شهر دوشنبه، از پشتیبانی کشورش از مبارزه با تروریزم در افغانستان تعهد سپرد. او افزود: «خواهان هستیم که صلح و امنیت و آرامی در کشور برادر ما برگزار گردد. چون که امنیت کشور برادر ما افغانستان به امنیت تمام کشورهای آسیای میانه بستگی دارد.»

میررحمان رحمانی، رئیس ولسی جرگه همچنین با امام‌علی رحمان، رئیس‌جمهور این کشور، دیدار کرد. این دیدار، بیش از یک ساعت پشت درها بسته به درازا کشیده شد. آقای رحمانی می‌گوید که آقای رحمان نیز از گُسترش نبردها در امتداد مرز این کشور با افغانستان، نگران است.

در این نشست، آقای رحمانی خواهان همکاری‌های تاجیکستان در مبارزه با تروریزم شد و خروج مسؤولانه نیروهای خارجی را از افغانستان به سود ثبات در منطقه می‌داند.

آقای رحمانی گفت: «قطع جنگ و صلح افغانستان نیاز به همکاری های منطقه یی دارد. در صورتی که همسایه های افغانستان به صورت مستقیم به تضمین هر نوع موافقت نامه صلح میان صلح میان طالبان و دولت افغانستان مداخله نکنند، صلح تامین نخواهد شد.»

## ژوند

## په کار کې ټنبلي او زیانونه یې



د خلکو یوه منفي ځانګړنه چې د پرمختګ او بریا مخه یې نیسي، هغه لټي یا په وخت د کار نه تر سره کول دي. انسانان د بېلابېلو عواملو له مخې لکه: ټنبلۍ، د انګېزې نه درلودو، له همکار سره کینه کولو، د نورو په امر، لاسي او یا له دې کبله چې یو څوک یې ملاتړ کوي، خپل کار ته د بیرته راګرځېدو او نورو له کبله خپل کار په خپل وخت نه تر سره کوي. په وخت د کار نه تر سره کول، لامل یې که هر څه وي، فاعل ته یې ښه او مطلوبه پایله نه شي درلودی. د نړۍ په هېڅ ځای او هېڅ اداره کې به هغه کس چې کار په وخت نه تر سره کوي، ونه وینئ چې د آمر او رییس یې خوښ او یا هم د دې لېواله وي چې کار ته دې ادامه ورسره ورکړي. دغه ډول کسان ډېر لږ یې د اداري پر موخو باندې فکر کوي او که دې موخو ته رسېدل ورته مهم وي، هر وخت خپل کار په وخت کوي او نه پرېږدي چې کار یې دې له ټاکلي وخت وځنډېږي.

## اوپو د رېنوه۵ لړۍ نوی ځیرک موبایل معرفي کوي



اوپو کمپنۍ د رېنوه۵ لړۍ نوی ځیرک موبایل چې رېنوه۵کې (Reno ۵K) نومول شوی دی، خرڅلاو ته وړاندې کوي. دغه ځیرک موبایل ٦,۴۳ انچه فول اېچ ډي پلس امولېډ ډوله مخپاڼه لري چې له ۹۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. رېنوه۵کې کې چې له ۵جي څخه هم ملاتړ کوي، د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۷۵۰ جي ډوله پروسېسر، ۱۲/۸ ګیګابایټ رم او ۲۵۶/۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې او له میموري کارت څخه ملاتړ نه کوي. دغه ځیرک موبایل ۴۳۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې له ٦۵ واټ چټک چارج څخه د ملاتړ کولو وړتیا هم لري. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې یوه ۳۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. دغه ځیرک موبایل به تر ټولو وړاندې چین کې خرڅلاو ته وړاندې شي او د بیې په اړه یې تر اوسه څه نه دي ویل شوي.

STUDENT’S ACCOUNT



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

1515 www.azizibank.af

عزیزي بانک
Azizi Bank